# شریعت

په اوونۍ کې دوه څله خپرېږي

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / (۱۳۲) ګڼه / پنجشنبه ۰۹ شعبان‌المعظم ۱٤٤٤ هـ.ق/ ۱۱ حوت ۱٤۰۱ هـ.ش / ۰۲ مارچ ۲۰۲۳ میلادي


## د حوت لسمه؛ د دوحې تړون د درېمې کلیزې په مناسبت د اسلامي امارت اعلامیه

د افغانستان اسلامي امارت په یوه اعلامیه کې د کب لسمه د لویې بریا او ازادۍ پیل ګڼلې دی.د اسلامي امارت لخوا د کب د لسمې (د دوحې د تړون د لاسلیک د درېمې کلیزې) په مناسبت په خپره شوې اعلامیه کې راغلي: د کب لسمه د قطر په پلازمینه دوحه کې د امریکا له متحده ایالتونو سره د افغانستان اسلامي امارت د تاریخي تړون د لاسلیک له درېمې کلیزه سره برابره ده.درې کاله وړاندې د کب میاشتې په لسمه د افغانستان اسلامي امارت او د امریکا د متحده ایالاتو ترمنځ، له افغانستان څخه د ټولو بهرنیو اشغالګرو ځواکونو وتلو تړون د قطر هېواد په پلازمینه دوحه کې د نږدې ۶۰ هېوادونو او سازمانونو د استازو پر وړاندې لاسلیک شو. زموږ مؤمن او مجاهد ولس د لوی الله جل جلاله په نصرت سره د بهرنیو اشغالګرو پر وړاندې مقدس جهاد ته تر هغو دوام ورکړ، ترڅو خپله جهادي مبارزه د بریا په مسیر برابره کړي.د الله تعالی خاص نصرت، د مجاهدینو او مظلوم ولس سربښندني او د کب لسمه د افغان مجاهد او مظلوم ملت لپاره د ستري فتحې او آزادۍ ګټلو پیلامه شوه او افغانستان له شل کلن اشغال او جګړې څخه خلاص شو. ۷مخ

### د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال

## امریکا په بېلابېلو مواردو کې د دوحې تړون څخه سرغړونه کړې



د کب ۱۰ مه، چې د اسلامي امارت او امریکایي لوري ترمنځ د تړون له ۳مې کالیزې سره برابره ده، پرون په ارګ ماڼۍ کې د یوې پرتمینې غونډې په ترځ کې ونمانځل شوه.د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر په دغه غونډه کې، په امریکا نیوکه وکړه، چې د دوحې تړون ته ژمنتیا نلري او په بېلابېلو مواردو کې یې له یاد تړون څخه سرغړونه کړې ده.نوموړي زیاته کړه، چې امریکا په ناقانونه ډول د افغانستان ملي شتمنۍ کنګل کړې، د طالب مشرانو نومونه یې په تور لېست کې ساتلي او نوره نړۍ هم دې ته نه پرېږدي، چې له افغانانو سره مرسته وکړي.ملا عبدالغني برادر همدارنګه وویل چې اسلامي امارت د دوحې تړون په ښه ډول عملي کړی، ټول ګډونه حکومت جوړ، بشپړ امنیت ټینګ او پراختیایي چارې په ښه ډول پر مخ رواني دي.سرچینې زیاته کړه، چې اسلامي امارت له نړۍ سره مثبت تعامل او په اصولو ولاړې ښې اړیکې غواړي.د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست مولوي شهاب الدین دلاور یادې غونډې ته وویل چې اسلامي امارت د دوحې تړون ته ژمن دی، خو امریکایي لوري په لسګونو ... ۷مخ

## یو انګلیسي پانګه وال د افغانستان پر کانونو د پانګونې غوښتنه کړې

د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست، د انګلستان له یو پانګه‌وال «درن هاشین» سره کتلي دي.د کانونو او پټرولیم وزارت ویلي په دې کتنه کې دواړو لورو، د افغانستان په بېلابېلو برخو په ځانګړې توګه د کانونو په برخه کې، د پانګونې لپاره د مناسبو شرایطو او زمینو برابرولو او د بهرنیو پانګه والو د هڅونې او جذب په اړه خبرې کړې دي.په دې کتنه کې، درن هاشین، د افغانستان په کانونو کې د پانګونې غوښتنه کړې چې د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست، د کانونو د قانون او مقرراتو له مخې د لازمې همکارۍ ژمنه کړې ده.

## یوناما د مخالفو ډلو او نشه یي توکو پر ضد د اسلامي امارت مبارزه ستایلې

د یوناما مرستیال مارکس پوټزل د کورنیو چارو وزارت له چارواکو سره لیدلي. کورنیو چارو وزارت د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي چې پوټزل په دغه لیدنه کې د نورو وسله والو ډلو په ځپلو او له نشه‌یي توکو سره د مبارزې او اداري فساد په برخو کې د کورنیو چارو وزارت د مشرتابه هڅې ستایلي دي.خبرپاڼه کې راغلي چې په دغې لیدنه کې د کورنیو چارو وزارت لومړي مرستیال داد ښودلی، چې د امنیتي ځواکونه په تېره ملي پولیس د یوناما د ټولو دفترو ځانګو، سفارت خونو او نورو بهرنیو بنسټونو د امنیت ټینګښت خپل لومړیتوب ګڼي او داډ یې ورکړ، چې ټول بهرني بنسټونه چې له اسلامي امارت سره د همکارۍ لېوالتیا لري او په سوله‌ییزه فضا کې کولی شي خپلو همکاریو ته دوام ورکړي.

## ادارات ترانسپورت و ترافیک ننگرهار ۶۲ میلیون افغانی عواید جمع آوری نموده است

شریعت: ریاست ترانسپورت ننگرهار، در سال جاری پنجاه و سه میلیون افغانی و مدیریت ترافیک این ولایت، حدود نُه میلیون افغانی عواید جمع آوری نموده است.مسؤولان ریاست ترانسپورت و مدیریت ترافیک ننگرهار روز گذشته در یک کنفرانس خبری گزارش دست آوردهای شان را با رسانه‌ها شریک ساختند.قاری محمد جواد شیرزاد مدیر ترافیک ۷مخ

## د غور د اطلاعاتو او کلتور ریاست موزیم پرانیستل شو

د غور د اطلاعاتو او کلتور ریاست مسوولین وایي، چې په یاد ولایت کې د اطلاعاتو او کلتور ریاست موزیم پرانیستل شو.
د دغه ولایت د اطلاعاتو او کلتور رییس مولوي عبدالحي زعیم باختر آژانس ته وویل، چې پخوا په دغه ریاست کې څو قلمه تاریخي او لرغوني آثار ساتل کېدل خو یو موزیم، چې وکولای شي تاریخي او لرغوني آثار په کې وساتل شي پرانیستل شو. ۷مخ

## انتقال ۳ هزار معتاد مواد مخدر غرض تداوی از نیمروز به قندهار

شریعت: مسؤولان در محبس مرکزی قندهار می‌گویند که به دستور امیرالمومنین (حفظه الله)، روند انتقال سه هزار معتاد به مواد مخدر از نیمروز به قندهار، روز گذشته آغاز شد.
ملا نعمت الله سراجی، رئیس محبس مرکزی قندهار می‌گوید: زندان مرکزی این ولایت به مرکز درمان معتادان مبدل شده است که ظرفیت پذیرش چهار هزار معتاد را با امکانات غذا، ورزش و تحصیل دارد.
سراجی گفت: در حال حاضر دوازده صد معتاد در این مرکز تحت تداوی قرار دارند که پس از بهبودی و تداوی کامل به خانواده‌های شان سپرده می‌شوند.

### شاروال کابل

## در طی مراحل اسناد شهروندان سهولت‌های لازم فراهم شده است



شریعت: مولوی عبدالرشید شاروال کابل، با شماری از مراجعین آن اداره از نزدیک ملاقات نموده' نظریات و مشکلات آنان را استماع نمود.
در این نشست' مراجعین شاروالی کابل، مشکلات و نظریات شان را با مولوی عبدالرشید شریک کردند و خواهان حل مشکلات شان شدند. شاروال ص۷

## ننګرهار کې دوو ښوونځیو او یو دارالعلوم ته ودانۍ جوړې شوې

د ننګرهار د پوهنې ریاست مسوولین وایي، چې د دغه ولایت په بهسودو ولسوالۍ کې دوو ښوونځیو او یو دارالعلوم ته ودانۍ جوړې او ګټې اخیستې ته وسپارل شوې.د ننګرهار د پوهنې ریاست مسوولینو د باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته وویل، چې د دغه ولایت په بهسودو ولسوالۍ کې د حضرت عمر فاروق (رض) ابتدائیه ښوونځي، د امام ابو حنیفه (رح) دارالعلوم او د شهید مولوي سمیع الله ریحان ابتدائیه ښوونځي لپاره د JEN موسسې په مالي... ۷مخ

## سرمقاله

## د دوحې تړون د ټول اسلامي امت یوه تاریخي فتح ده!

که ددې زماني د مسلمانو ملتونو لید لوری په رښتیا اسلامي او منصفانه وي نو باید ومني چې افغانانو د خپل تاریخ په ټوله اسلامی دوره کې همېشه د اسلام د سر لوړۍ او دښمنانو د شړلو په لاره کې خورا درنې قرباني ورکړې او نه یوازې خپل هېواد بلکې ټول امت ته یې ستر ویاړونه ترلاسه کړي دي. د مثال په ډول تېره یوه پېړۍ کې همدا افغانان وو چې د بریتانوي ښکېلاک طلسم او هیبت یې ورمات او بیایې له ټولو ختیځو او عربي هېوادو د واکمنۍ تغر ټول شو. دویم ځل کله چې شوروي کمونیزم پر ټوله نړۍ خصوصاً مسلمانانو د رعب او ډار کومه خپسه خپره کړې او ډېرې یې ترخپلې واکمنۍ لاندې راوستلي وو، بیا همدا افغانان وو چې د نړۍ ختیځ او لویدیځ، عربي خلیج او د منځنۍ اسیا مسلمان هېوادونه یې له یادې سرې بلا داسې وژغورل چې خپله یې په میلیونو سرونه ورکړل خو نور ملتونه یې په ډېرې اسانۍ ترې وژغورل. دغه راز په درېم ځل یې د امریکې اتحادي ځواک په داسې حال کې خرپړ او سپېره کړ چې که همدا افغانان نه وای نو ښایي تر اوسه یې فرداً فرداً د هر مسلمان نارینه د مرۍ کولو او هرې مسلمانې د مینځولۍ پروسه سل سلنې ته رسېدلې وای. ځکه د هغه مهال د زورواکي دا وینا به د هر چا په یادوي چې ویل یې یا به موږ سره یا به زموږ پر خلاف درېږئ ! ښکاره ده چې دوی سره درېدل یقیني غلامي او پرخلاف درېدل یې د حتمي نابودۍ معنا لرله. خو افغانانو ان لاهماغه وخت له تسلیمي انکار او د مقابلې لپاره ترخپلې وروستۍ سلګۍ پورې د مقاومت او قربانۍ ژمنه وکړه. تردې چې تر اتلس کاله پر له پسې مبارزې او لکونو سرونو تر قربانۍ وروسته یې هماغه دښمن اړوېست چې د (۱۳۹۸هـ ش) کال د حوت په لسمه تراتلسو میاشتو مذاکراتو وروسته د دوحې تړون په نامه موافقه ورسره لاسلیک کړي. یاد تړون د ګنو وجوهاتو پر بنا د ټول اسلامي امت د ویاړ او سرلوړۍ یو تاریخي سند او لویه فتح ګڼل کېدی شي. مثلاً یو دا چې کومو کبرجنو د طالبانو اسلامی تحریک او امارت د غرو پر وړاندې پرته له مرګ او زندانه بله لار نه منله، څرنګه یې بالآخره د قربانیو او مجاهدې په برکت هماغو طالبانو سره مرکې او خبرو اترو ته غاړه کېښوده او د خپلو ټولو ځواکونو د وېستلو ژمنه یې ورسره وکړه. بله دا چې ګردو مسلمانانو ته یې ور په یاد کړل چې خپل دین او خپلواکي پر ته له قربانیو او شهادتونو ګټل کېدی او خوندي کېدی نه شي او دا چې دښمن که هر څومره ډېر، زورور او د وسایلو، مال او تبلیغاتو له درکه پیاوړی ۲مخ

## په یوه پېړۍ کې څو غزاګانې

۵ مخ

## د دوحې تاریخي تړون درې کلن شو!

۲ مخ

## توافق‌نامه دوحه؛ ملاک عقلانیت حق و باطل

٤ مخ

## بامیانو کې د یوې پروژې چارې پیل شوې

شریعت: د بامیانو ولایت په شېبر ولسوالۍ کې د ۵ زره متره کانال او ۳ کیلومتره سړک د پاکولو چارې پیل شوې دي.
د یاد ولایت د کلیو بیارغونې او پراختیا ریاست مسؤلین وایي، چې د دغه ولایت په شېبر ولسوالۍ کې د ۵ زره متره کانال او ۳ کیلو متره سړک د پاکولو چارې د UNOPS موسسې له لوري د ۲ میلیونو ۲۰۰ زره افغانیو په ... ۷مخ

## فراغت صدها مجاهد از بخش‌های «توپچی و دافع هوا»

شریعت: دو صد تن از مجاهدین امارت اسلامی، پس از سپری نمودن یک دورۀ سه ماهه آموزش مسلکی و نظامی در بخش‌های «توپچی و دافع هوا» از قول اردوی ۲۰۵ البدر، فارغ گردیدند.دفتر مطبوعاتی وزارت دفاع ملی روز گذشته با نشر خبرنامه‌یی گفت: که در مراسم فراغت این مجاهدین ملا محمد فاضل «مظلوم» معاون اول وزارت دفاع ملی، ملا مهرالله «حماد» قوماندان قول اردوی ۲۰۵ البدر اشتراک داشتند.ملا محمد فاضل مظلوم در مراسم فراغت این مجاهدین گفت: وظیفۀ شما حفاظت از سرحدات کشور است و برای دفاع از سرزمین خود آمادگی بیشتر داشته باشید. معاون اول وزارت دفاع ملی همچنان، در سخنانش فارغان را به حفاظت از ارزش‌های اسلامی و ملی توصیه کرد.

## زابل کې د معتادینو وقایوي مرکز پرانیستل شو

د زابل د عامې روغتیا ریاست مسوولین وایي، چې په دغه ولایت کې د UNODC موسسې له لوري د روږدو کسانو لپاره وقایوي مرکز پرانیستل شو.
د دغه ولایت د عامې روغتیا رئیس ډاکټر میرویس افغان باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته وویل، چې د دغه مرکز په پرانیستلو سره به د روږدو کسانو په شمېر کې کموالی راشي او هغه کسان چې په نشه یي توکو روږدي وي په دغه مرکز کې به ورته وقایوي خدمتونه وړاندې کېږي.

### مولوی ندا محمد ندیم

## به مشکلات پوهنتون بین‌المللی افغان رسیدگی می‌شود



شیخ الحدیث مولوی ندا محمد ندیم سرپرست وزارت تحصیلات عالی، دردیدار از پوهنتون بین المللی افغان، مشکلات و خواست‌های رهبری این نهاد را شنید. در این دیدار، نخست دکتور رفیع‌الله اعطا رییس پوهنتون بین المللی افغان، گزارشی از کارکردها و برنامه‌های این نهاد تحصیلی را ارائه کرد. وی همچنان، یک سلسله مشکلات شان را از ناحیۀ کمبود استادان دایمی و قراردادی، نبود لابراتوارها، کتاب‌های مورد نیاز و کمبود بودجه برای ص۷

## آغاز کارزار نهال شانی در سمنگان

کارزار نهال شانی روز گذشته در سمنگان، آغاز گردید. قرار است در آستانه‌ی بهار، پنج هزار نهال در بخش‌هایی از این ولایت، غرس شود.
کارزار نهال شانی با حضور داشت مسؤولان محلی سمنگان، از اطراف ساحه‌ی استوپه سنگی تخت رستم در شهر ایبک آغاز شد. مولوی فیض محمد ریحان شاروال ایبک مرکز سمنگان به آژانس باختر گفت: قرار است در این کارزار، پنج هزار نهال زینتی در ساحات باستانی، پارک‌های تفریحی، محوطه‌ی مکاتب و اطراف جاده‌ها غرس شود. این برنامه تا اول ماه حمل ادامه می‌یابد.
مولوی فیروز الدین منیب رئیس اطلاعات و فرهنگ ص۷




## سالمزی

زما نظر دادی چې افغانانو خو د جنګ په ډګر کې د زمانې د هر ښکرور ښکرونه ورمات کړل خو له بده مرغه چې زموږ سیاسي مشرانو د تیرو څلور لسیزو په لړ کې ځینې سیاسي تیروتنې وکړې د ملت قربانۍ یې په نظر کې ونه نیوله او دغه بې دزه قهرمانانو او کاغذي زمریانو د ملت د بې دریغه قربانیو د اوښکو او وینو هیڅ پروا ونه ساتله، مادیاتو ته یې لومړیتوب ورکړ او په عیش و عشرت کې ډوب شول، پټې معاملې یې وکړې او د پردیو په استخباراتي او نیابتي جنګونو کې ښکیل شول او د خپل مظلوم او قهرمان ملت په ککریو یې دغه لوبه جاري وساتله. د طالبانو په واکمنیدو بیا له خپل ګران او محبوب هېواد څخه د پردیو غېږ ته لاړل او د اسلامي نظام سره د مخالفت لارې نیولې او په مقابل کې د بغاوت غږ پورته کوي خو نور افغانان پوهه شوي د دې خاورې اصلي وارثین او د هېواد او ملت دښمنان پیژني، دا غیرتي او باتور ملت به نور هیچا ته ددې اجازه ورنکړي چې افغانان په یو نوم او بل نوم پخپلو کې سره وجنګوي. تاسي خو د دې ځوریدلي ملت د وینو او اوښکو طوفاني څپو په مخه کړې یاست، تاسي ملت ته امتحان ورکړی، مؤمين له یوه سوري دوه واره نه چیچل کیږي، تاسو خو د مجاهدینو د قربانیو په پایله کې دغه مقام ته ورسیدئ خو په تاسف سره باید ووایم چې تاسي هغه څه وکړل چې یو حیوان یې له بل سره نکوي، تاسي پخپلو بچو شرقي او غربي علوم زده کړل خو د شهیدانو بچي مو سوال ته کینول، ستاسي بلند منزلونه او سرمایې په تاسي شاهدې وایې چې تاسي دغه سرمایه او جایداد په کومه طریقه راپیدا کړ، تاسي خو په جهاد الله(ج) عزتمند کړئ ولې مو د جهاد ثمره په شرقي او غربي یرغلګرو د یو څو ډالرو په مقابل کې وپلورله، د مزوا و چرچو ډک ژوند موځانونو ته غوره کړ او ملت مو په فقر او غربت کې پریښود نه مو د بلډینګونو په جوړولو زړونه ماړه شول، نه په ډالرو وپړسیدئ، نه مو له ډیرو قیمتي موټرو په خوند زړونه یخ شول، له دې څرګنده شوه چې تاسي د اسلام نه بلکې د اقتدار وږي وئ دا دنیا د مسلمانانو لپاره د ازموینې یو ډګر دی هر چا چې هر څه کړي وي حساب به ورسره کیږي.

تاسي د اقتدار په نیشو کې داسي مست وئ چې د یتیمانو سوې چیغې مونه اوریدې لکه چې پښتو لنډۍ ده!

د لیونۍ ارمان پوره شو!

په لاره ځي په کاڼو ولي زیارتونه

تاسي جهاد د همدې لپاره کړی ؤ چې د مظلومانو مالونه غصب کړئ او ځانونو ته بنګلې جوړې کړئ دا هر څه مو وکړل، تاسي خپل اهداف تر لاسه کړل، ملت وپیژندئ او ردیې کړئ او د بیا لپاره به مو دغه خوبونه هیڅکله رښتیا نشی، د افغان مجاهدینو په مقابل کې ټوله نړۍ ماته شوی او دا پوچ خیالونه او خوبونه دې بیا نه ویني، په نظامي ډګر کې مو په تشو لاسونو د الله(ج) په نصرت سره د نړۍ د سترو فرعوني یرغلګرو ځواکونو د دریمې سترې بریا ویاړ را خپل کړ او د کومو اهدافو لپاره چې زموږ ځوریدلي ملت زیاتي قرباني ورکړي باید له پامه ونه غورځول شي. د شهیدانو قرباني وستایل شي او د یتیمانو او معلول شویو مجاهدینو قدرداني او درناوی وشي چې دا د چاروا کو اساسي مسؤلیت دی. د عثماني خلافت د زوال عوامل باید مطالعه شي او له هغې ځان وساتي. دښمن په کمین کې دی د مجاهدینو صفونه تصفیه شي او ملت ته غیرږ پرانیستل شي مشروع غوښتنې یې ومنل شي او د تعلیم لپاره داسي سهولتونه او اسانتیاوې برابرې شي چې بهرنیو هېوادونو ته د تلو په برخه کې هیڅ اړتیا پیښه نشي، خپل ډاکټران، انجینران، خپل عالمان، خپل پوهنتون، خپل ښوونځی او خپله مدرسه د هلکانو او انجونو دواړو لپاره ولرو.

**ومن الله توفیق**

**د یوه ودان سرلوړي او غوړیدلي افغانستان په هیله**

## د دوحې تړون د ټول مسلمان ...

او پرمختللي وي خو چې ایمان، اخلاص، توکل، اتحاد او قرباني وي نو اخر پای به غاړه ږدي او بری به د مجاهدینو په برخه وي. افغانان او نور مسلمانان باید زموږ له یادو مذاکراتو او بیا سترې فتحې دا هم زده کړي چې د جهاد او مبارزې صف باید په هر صورت ایکي یو، متحد او متفق وي. ځکه ښایي له دې حقیقته هیڅوک منکر نه شي چې که تېره شل کلنه جهادي دوره کې افغانانو تر یوه قیادت لاندې کار نه وی کړی او دښمن پردې بریالی شوی وی چې په موږ کې څو ډلې وپنځوي نو یقیناً چې د اوسنیو افتخاراتو ګټل ناشوني وو. لنډه دا چې د دوحې تړون دریمه کلیزه چې د حوت لسمې سره برابره ده، د افغانانو په تاریخ کې پرته له شکه یوه ستره ویاړمنه او تاریخي ورځ ده. دا ورځ باید د هر مسلمان او هېوادپال افغان لپاره د خوښۍ ورځ وي، همېشه یې په یاد ولري او خپلو راتلونکو نسلونو ته یې ژوندۍ وساتي. په ځانګړې توګه دیني علماء، امامان، خطیبان، استادان، رسنۍ او د تبلیغاتي شبکو کاروونکي مسؤلیت لري چې دغه تاریخي فتح لا ډېره وځلوي، د عوامو سرونه پر خلاص او پر اهمیت یې قانع کړي. آیا همدا دوحې تړون نه و چې له افغانستانه د یرغلګرو ځواکونو پر وتلو او کابل کې یې د لاس پوڅي رژیم پر سقوط منتج شو؟ او پای کې همدې فتحې د صلیبیانو رعب او حیثیت دومره ټیټ نه کړ چې اوس یې ځینې پخواني غلامان او اجیر حکومتونه هم څه ناڅه د مخالفت زړورتیا کوي؟ واقعاً دا د افغانانو، ټول مسلمان امت او ګردو کمزورو ملتونو لپاره د ویاړ او هیلې یوه ستره ورځ ده.

# د حوت لسمه ؛ د امریکایي اشغال پای او د افغان ولس آزادي !

**م حمادافغان شیرزاد**

د ولسونو او وطنونو د آزادۍ او استقلالیت لپاره قربانیو او مبارزې تل رنګ راوړی، الله تعالی پرې تل یوه ښه نتیجه او ثمره مرتبه کړې، چې د هغې ثمرې ساتل بیا د آزادو ولسونو خپل اختیار دی او د دغو ثمرو ژوندي مثالونه موږ او تاسو وینو او مشاهده کوو یې، چې په تیرو څو لسیزو کې دلته بیا بیا تکرار شول.د اشغال د خاتمې او د خپل وطن د آزادۍ لپاره که له یوې خوا د وسلوالې مبارزې «جهاد» لاره انتخاب ده، خو له بل طرفه بیا ځینې وختونه چې تاریخ کې یې مثالونه ډېر شته د سولې او مذاکراتو له لارې هم اشغال دفع کیدلی شي، افغانانو که څه هم ۱۹ کاله د کفر پر وړاندې بې دریغه قربانۍ ورکړې او جهاد یې وکړ؛ خو د کفري اشغال پای بیا د خبرو او مذاکراتو له لارې وشوو، چې دا دی نن یې دریمه کالیزه لمانځو.

د حوت پر لسمه که له یو طرف هلته د افغانستان اوسنیو واکمنانو د اشغال ټغر ورټول کړ، خو له بل طرفه یې بیا ولسونه د هغه وحشتونو او ظلمونو څخه هم وژغورل چې څو لسیزې یې دلته افغانان د ویر په ټغر کینولي وو، د هغه اسلامي نظام او مسلمان نوم او نښان یو ځل بیا ژوندی شو چې کلونه کیږي د ویښ ضمیر خاوندان یې لیدلو ته انتظار وو، د اسلام هغه دبدبه او شان هم ورسره روښان شو چې د عثماني خلافت له سقوط سره مړ شوی و، هغه د عمر او معاویه سیاست بیا پلې شو او یوه سیمه د اسلام د بچیو لپاره آزاده شوه.د بریا تر دې محوره د افغانانو رسیدل د سترو قربانیو پایله وه، چې بالاخره اشغالګر مجبور شول او د دغې معضلې د حل لپاره یې د مذاکراتو وړاندیز وکړ، چې له ډیرو خبرو او بحثونو وروسته ورسره ومنل شول، تر څو د قران پر لارښوونه ژباړه: (او اې پیغمبره! لکه دښمن د روغې جوړې خوا ته میلان ولري، نو ته هم د هغې لپاره تیاره اومه او پر الله(ج) توکل وکړه. د انفال سورت (۶۱) آیت او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سیرت پر لاره عمل وشي او زموږ ولس ته پر دغه لاره له دې شریرو عناصرو او بدرنګ اشغال نجات پیدا او آزادي تر لاسه شي.مذاکرات چې په کامیابۍ سره پر مخ روان شول، کله خنډ او کله د خنډ سره مخ کیدل، کفارو د چالاکۍ او منافقت څخه کار اخیستلو؛ خو د ویښو مشرانو درایت او سیاست او تر شا یې د زرګونه کورنیو قربانۍ او د افغان ولس سترې مبارزه او دعاګانې وې چې په سیاسي ډګر کې هم اشغال سرنګون او د منافقت سره سره بیا هم امریکایي لوري د خپلې ناکامۍ لاسلیک وکړ او دلته د دریمې امپراتورۍ د ماتې افتخار ثبت شو.

افغانانو تل آزادۍ تر لاسه کړې؛ خو د دغه آزادیو وروسته یې هغه د جهاد ثمره او نتیجه نه ده ساتلې کومه چې باید ساتل شوې وای، اوس چې کوم فرصت او چانس په لاس راغلی دا زرین فرصت دی، دا د قربانیو هغه انعام دی چې الله تعالی یې قومونو ته ورکوي او امتحانوي یې، دغه نظام ته د خپلو ولسونو سربیره د نورو محکومو اسلامي هیوادونو د ولسونو هیلې دي. د روښ سبا او اسلامي امت د ویښتابه په هیله.

# د دوحې تاریخي تړون درې کلن شو!

**عبدالحی قانت**

کال ۲۰۰۱م کې د امریکا دفاع وزیر رمز فیلډ اعلان وکړ چې په افغانستان کې د دوی د یرغل اصلي اهداف؛ د طالبانو له قدرته لرې کول او پر ځای یې یو ډیموکراتیک او ماډرن حکومت انستالول، د القاعدې له بیخه ویستل او ملت جوړونې نوې پروسه پیلول دي.

له دې اعلان سره سم رمز فیلډ او کنډولیزا رایس دا اعلان هم وکړ چې طالبانو سره د سولې په خبرو باندې رسمي بندیز دی، یعنې دوی له وژلو یا بندي کېدلو پرته بله لاره نه لري.

ملا محمد عمر مجاهد لا په کندهار کې ؤ چې د سولې آفر یې وړاندې کړ. یرغلګرو د ملا صاحب آفر رد کړ. بیا ملا صاحب د ملا عبید، ملا برادر او طیب آغا په واسطه دوه ځله د کرزي له اداري سره رابطه وکړه او د سولې په بدل کې یې یواځې د مصؤن ژوند غوښتنه وکړه، کرزي د طالبانو آفر د خپل شخصي امنیت امریکایي مشر په واسطه واشنګټن ته ولېږه. له هغې خوا د سخت رد ځواب ورکړل شو. د جګړې کولو مخکې ملا محمد عمر سولې لپاره خپلې ټولې غاړې خلاصې کړې خو پوه شو چې د سولې له لارې دوی هېڅ نه مني او د ټوپک ځواب له ټوپک پرته په بل څه نه ورکول کېږي.

د قدرت سیاست کې محاسبه د زور پر مټ ده، ضعیف خلک په دغه محاسبه کې ځای نه لري. بوش ولاړ، اوباما راغی، اوباما لا پسې زور ته کش ورکړ. امریکایي پوځونه یې د ۴۰،۰۰۰ څخه ۱،۴۰،۰۰۰ ته ورسول. طالبانو بیا مقاومت وکړ.

اوباما یو کال وروسته په دې پوه شو چې ډېر پوځونه هم کار نه ورکوي. ۲۰۱۴ کې یې بېرته پوځونه کم کړل. دا هغه وخت ؤ چې د طالبانو مقاومت او قدرت د رمز فیلډ په «سولې بندیز» ننګولی ؤ.

امریکایانو له یوې خوا د قطر دفتر ومانه تر څو طالبانو سره د سولې رسمي چېنل خلاص کړي بل ارخ ته یې له خپلو افغانو خادمانو سره شرمیدلی امنیتي تړون BSA امضاء کړ.

امریکایانو غوښتل طالبان په نورمال ډول د داسې حکومت برخه کړي چې هغه تیار له امریکا سره امنیتي تړون لري.

دوی فکر کاوه که دې کار کې کامیاب شي هم به له افغانستان څخه ووځي او هم به یې خپل نظامي شتون ساتلی وي.

طالبانو له اول مجلسه امریکایانو ته واضح دا ویلي ؤ چې دوی د امریکایانو یو پوځي بوټ هم په افغانستان کې نه مني او له دې پرته په بله ایجنډا خبرو ته هم نه حاضرېږي.

امریکایانو د قطر دفتر په وخت کې د فشار او خبرو ګډه ستراتیژي پر مخ بېوله. ټرمپ چې راغی سوېل آسیا ستراتیژي یې اعلان کړه. خپلو پوځیانو ته یې وویل له اټومي وسلو پرته هر څه استفاده کړئ، زه یو کال کې نتیجه غوارم. طالبانو بیا بې مثاله مقاومت وکړ.

۲۰۱۸ کې امریکایان پوه شو چې دې خلکو سره نه کېږي. خلیلزاد یو نیم کال کوښښ وکړ چې طالبانو سره د امریکایي اډو په اړه یو توافق ته ورسېږي خو طالبانو ونه منله.

د ۲۰۱۹ په آخر کې یو ځل ټرمپ خپل خارجه وزیر ته ویلي ؤ چې خلیلزاد توافق ته نه وي رسېدلای، واشنګټن ته یې راپرېږدي. نو بالاخره امریکایان تړون ته مجبور شول.

د صبر، استقامت او ریښتیني مبارزې دا زور ؤ چې امریکایان او لاسپوڅي یې په داسې شرمیدلي حالت وویستل شول چې چا یې ګمان نشو کولای.

# سپردن سفارت افغانستان _تهران به امارت اسلامی

**محمدصادق طارق**

پس از حاکمیت دوباره‌ی طالبان بر پایتخت افغانستان و شکست نیروهای امنیتی اداره‌ی پیشین در مدت کوتاهی، جامعه جهانی در شوک بزرگی قرار گرفت. یگانه مسئله‌ی که در آن زمان حائز اهمیت بود مواضع متفاوت کشورهای گوناگون در باره شناسایی، عدم شناسایی و یا ارائه شروط خود برای به رسمیت شناختن طالبان بود.کشورهای منطقوی و بین‌المللی گرچه در نخست، حاکمیت امارت اسلامی را به بهانه‌های گوناگون منزوی می‌خواندند اما در نتیجه‌ی سیاست پر اعتدال طالبان، راه دیپلماتیک را به عنوان بهترین راه‌حل معضل افغانستان پذیرفتند. به‌همین دلیل گرچه تاکنون هیچ کشوری امارت اسلامی را به رسمیت نشناخته است اما کشورهای روسیه، چین، پاکستان، ترکمنستان، ایران و قطر طی چند ماه گذشته دیپلمات‌های امارت اسلامی را پذیرفتند.در این اواخر جمهوری اسلامی ایران با اتخاذ موقف متفاوت با سایر کشورها، برای تخلیه کامل سفارت افغانستان–تهران از کارمندان اداره‌ی پیشین و پذیرفتن سفیر جدید امارت اسلامی آماده شد. جمهوری اسلامی ایران در این گام بی‌مانند خود، به عنوان قدرت منطقوی با احساس و همسایه‌ی نزدیک افغانستان شاه‌کاری را انجام داده‌است که منافع حیاتی و ملی شان آن را ایجاب می‌نمود. به نظر می‌رسد اقدام اخیر گامی برای نزدیکی بیشتر بین تهران و افغانستان بویژه برای حل‌وفصل مسائل مرزی بین دو کشور می‌باشد.در این مورد باید طبق اعلامیه وزارت خارجه‌ی امارت اسلامی افغانستان گفت که: «تغییر در کادرهای دیپلماتیک، امر معمول اداری و حق مشروع هر کشور می‌باشد». سفارت یک کشور متعلق به گروه ویژه یا حزب سیاسی مشخص نمی‌باشد که باید برای همیشه در آن بماند بلکه حکومت کشور حق تغییر در کادرهای دیپلماتیک را دارا می‌باشد.وضعیت مهاجرت افغانان به جمهوری اسلامی ایران نیز تقاضا می‌نمود که سفارت افغانستان به کسانی محوّل گردد که در همکاری با وزارت امور خارجه‌ی افغانستان از هیچ نوع تلاشی دریغ نورزند. پس از آنکه جمهوریت در افغانستان سقوط نمود و موج مهاجرت شهروندان افغانی‌تبار به ایران افزایش یافت، سفارت افغانستان در تهران که پیش از این نیز ظرفیت لازم را برای پاسخگویی به مهاجرین افغان نداشت، به دیپلمات‌هایی که وابستگی جناحی ندارند و فقط برای پیشبرد امور مراکز دیپلماتیک اعزام شده‌اند، سپرده شد. پس هویدا گشت که هدف این اقدام –پذیرش دیپلمات‌های جدید– خدمات بهتر به امور کنسولی و احوال شخصیه مهاجرین افغانستانی است. به دلیل این‌که مردم افغانستان با توجه به مشترکات زبانی، فرهنگی و تاریخی از ایران توقعات بیشتری دارند، جمهوری اسلامی ایران نیز آماده پذیرش این اقدام شد.

به امید کاهش مشکلات افغان‌زمین و گسترش روابط دیپلماتیک آن.

# د خوارجو وروستی پایله به څه وي؟

**عبدالرحیم راشد**

د خوارجو عمده هدف په بشري او اسلامي نړۍ کې دا دی، چې د انسانیت او مسلمانیت سپېڅلي نوم په خپلو شومو اهدافو سره تک تور او منفور وګرځوي.

د دوی هڅه تل دا وي، چې داسې ناوړه اعمال تولنه کې ترسره کړي، تر څو بشري ناخوالي رامنځته سي او د خلکو ترمنځ د نفاق، جلا والي، وحشت او بربریت منحوس زهر وشيندي.

خوارجو د اسلام په نوم هغه وحشتونه ترسره کړل، چې تر اوسه چا له دې سپېڅلي نوم څخه داسې ناوړه استفاده نه ده کړې، ځکه دوی ته کلاب النار یعني د اور سپي ویل سوي دي او وینه یې مباح ګرځول سوې ده.

خو لله الحمد د اسلام له پیل څخه چي د دوی ظهور سوی دی، تل ددې پاکي لارې د سرښندونکو لارویانو لخوا په سر ټکول سوي او جهنم ته ور ټېل وهل سوي دي.

که راسو خپل ګران هیواد افغانستان ته، وینو چې کله کلاب النار په یو کونج او کنار کې په خفیه توګه سر اوچت کړې وي، هغه ګړی د اتلو او ویښو شاه زلمو له خوا په سر وهل سوي او همداسې نبغ په ځمکه کې ښخ کړل سوي دي.

که ډېر لیري ولاړ نه سو، دا نژدو څو ورځو کې وینو چې ددې باطلي او جهنمي ډلې د ابوجهل او ابو لهب په شان مشران تر تېغ تېر سوي، ډېر ژر به خپله د دوی د تباهۍ او ختمېدو زېري انساني او مسلماني نړۍ ته څرګند سي.څه موده مخکې د افغانستان اسلامي امارت د ویښو او با مرامو استخباراتي ځواکونو او د صلاح الدین ایوبي رحمه الله د پیرویانو له خوا د کابل په کارته نو سیمه کې د کلاب النار د هند نیمي وچې مشر اعجاز امین اهنګر مردار او خپل ابدي کور جهنم ته د ابو جهل څنګ ته ولېږل سو، چې په وژلو سره یې د کلاب النار ډلې مرام ختم او د خاورو سره خاوري سو، چې زموږ اتلانو د بدر غزا زرین تاریخ یو ځل بیا تازه کړ، چي د خپل هیواد سره مو ګاونډیان ددې خبیثې څېرې له شومو موخو څخه وژغورل.

او په همدې توګه د تېرې یکشنبې په شپه (۴/۸/۱۴۴۴) د همدې ډلې عمومي عملیاتي او نظامي مسؤل قاري فاتح مردار او د جهنم کندې ته ور ټېل وهل سو. قاري فاتح چې په سیمه کې د ډېرو فتنه ایزو کارونو سرلاری او د مسلمانانو په پاکو او معصومو وینو یې لاسونه سره وو، چې مسجدونو، مدرسو، ښوونیزو مرکزونو او عامو بازارونو کې د زیاتو بریدونو مسؤلیت یې په غاړه و، د تل لپاره دا سپېڅلې خاوره ترې پاکه او د امیه بن خلف څنګ ته ولېږل سو.

په وروستیو کې په مختصرو ټکو وایم، چې نور د خوارجو نسل په ختمېدو دی او ریښې یې په وچېدو دي، ځکه دا ملت مهربان څښتن په داسې سرښندونکو شاه زلمو نازولی دی، چې په ځانونو یې خوب حرام کړی، خو ملت ته یې د خوښۍ او نېکمرغۍ څخه ډک ژوند ورکړی دی.

رب عزوجل دې ددې ملت ټول خادمان په تلپاتو نعمتونو ونازوي.

# داسې تړون چې له خوښۍ اوښکې نه تم کېدې!

**حمزه حسيني**

دوحه کې د افغانستان د شل کلنې معضلې د حل په موخه درې کاله وړاندې د امريکا او اسلامي امارت تر منځ د سولې تړون د شاوخوا يو نيم کال مخامخ خبرو په نتيجه کې لاسليک شو، چې له مخې يې امريکا او ناټو له ګران هېواد افغانستان څخه خپلې کډې بار او افغانان له کابو دوه لسيزو وروسته د افغانستان استقلال له صليبي لښکرو تر لاسه کړ، د دوحې تړون افغانانو ته د يوه زرين زيري په توګه و، چې تر لاسليک وروسته صليبي لښکرې مات او اسلامي امارات د بريا تر درشل ورسېده.

ښه مې په ياد دي، چې کله د دوحې تړون د کابو ۳۲ هېوادونو د استازو په حضور کې د الحاج ملا عبد الغني برادر حفظه الله او د افغانستان لپاره د امريکا د ځانګړي استازي زلمي خليلزاد لخوا لاسليکېده له سترګو مې د خوشحالۍ له امله بې اختياره اوښکې بهېدلې، نه پوهېدم چې ددې خوشحالۍ اظهار په څه ډول وکړم؟ خو دا زما په ژوند کې د خوږو خاطرو څخه هغه شېرينه خاطره ده، چې فکر نه کوم راتلونکي کې به دداسې سترې او خوږې خاطرې څښتن شم، د دوحې د تړون پر مهال هغه وخت لا پسې جالب و، چې تالار کې د تړون تر لاسليک وروسته د تکبير ملکوتي نعرې د ملګرو له خوا بدرګه او د کفري نړۍ استازي يې حيران کړل، هوکې! دا هغه شېبه وه چې له هېواد څخه نور د ظلم ټغر په ټولېدو او د خپلواکۍ له ګلبڼ څخه د هيلو غوټۍ را وټوکېدلې. د دوحې تړون د افغانستان د ازادۍ تړون و، همدا تړون ګواکې د توږمۍ د پای لپاره د سهار اذان و، چې مؤذن او امام يې ملا عبد الغني برادر و، برادر لکه د وخت يوسف چې له بند څخه ازاد شوی وي او د هېواد د حاکميت واګې يې په لاس کې اخيستي وي، د تړون په تالار کې برادر تر مايک پمپيو وروسته دريځ ته خپل نازنين قدمونه پورته او په خورا نرمه لهجه يې د دوحې د تړون په هکله راغليو مېلمنو او کتونکو ته وضاحت وړاندې کړ، د تړون تر لاسليک وروسته له ګران هېواد افغانستان څخه د امريکايي ځواکونو د وتلو سلسله پيل شوه، تر تړون وروسته د امريکا او اسلامي امارت تر منځ اوربند وشو، بين الافغاني مذاکرات پيل شول، خو د هغه وخت ارګمشر د سولې تړون د سبوتاژ په هڅو کې بين الافغاني مذاکرات متزلزل کړل، البته! په ياد تړون کې دا منل شوي و، چې امريکا به د اسلامي امارت د مشرانو نومونه له تور ظالمانه لېست څخه اوباسي، چې تر دا مهاله د دوحې د تړون دغه جزء نه دی عملي شوي، هو! د دوحې د تړون له مخې امريکا او ناټو مکلف وو چې د افغانستان د هوايي او ځمکني حريم له اشغال څخه ځانونه وساتي، چې د هوايي حريم پر وړاندې لا هم ستونزې شته چې د دوحې له توافقنامې څخه په ښکاره توګه سرغړونه ده.

د دوحې تر تړون کابو يو نيم کال وروسته افغانستان د اسلامي امارت تر بشپړ کنټرول لاندې راغی، د امريکا او ناټو لخوا تربيه شوي خيالي سرتيري په دومره بيړه تسليمېدل چې وروسته نړيوال او خپله اسلامي امارت دې فاتحانه مبارزې ته حيران وو، خو دا د رب العلمين نصرت و، چې هېواد کې د وينو تويېدنې مخه ونيول شوه، د عاليقدر امير المؤمنين د حکم له مخې ټولو افغان سرتېرو او تېرې ادارې کار کوونکو ته عفوه وشوه، په هېواد کې د مبينې فتحې خوشحالي له برداشت څخه وتلې وه، زرګونو کورنيو د خپلو بندي او نادرکه شويو غړيو د راتګ لارې څارلې، په هر کور کې د خوښۍ خبرونه بدرګه کېدل، هو هغه شېبې ډېرې په زړه پورې وې، ځکه اسلامي امارت په فاتحانه انداز له صليبي لښکرو جګړه وګټله او د دوی لاسپوڅې او روزل شوي سرتيري يتيمان شول، چې له عفوې سره سره يې د بادارانو غېږ ته پنا يوړه.

له فتحې وروسته يو شمېر غربي رسنيو د دوحې پر تړون رنګا رنګ تحليلونه وکړل، سيګار د افغان سرتېرو په اړه وويل، د دوحې تړون و، چې طالبان يې پياوړي کړل او د افغان سرتېرو مورال يې کمزوری کړ، سپينه ماڼۍ بيا په دې باور ده چې دوحې تړون د تېرې ادارې د راپرځېدو لامل شو، زلمی خليلزاد بيا په دې اند دی، چې د دوحې تړون د افغانستان د جګړې پای ته رسېدو لامل شو، ددې ټولو نظرونو ور هاخوا مونږ ته د دوحې تړون د يوې سپېڅلې ازادۍ د تر لاسه کولو ستر زېری و، چې نمانځنه يې پر مونږ لازمه ده، د دوحې تړون د تاريخ په پاڼو کې د زرين باب حيثيت لري چې افغانان به هيڅکله ددغه تړون لاسته راوړنې هېرې نه کړي.

# دحوت لسمه؛ د صليبي استعمار د ماتې ورځ!

**حمزه الياس**

کله چي روسانو په افغانستان کي ماتي وخوړه او ټول زبرځواک يې له خاورو سره خاوري سو (پر پنځلس نورو هېوادونو وويشل شو)

له بده مرغه په افغانستان کي هم د دې پر ځای چې اسلامي نظام قائم سي، د هغه خلاف اووه ګوندونه جوړ شول او هر ګوند دا کوشش کولو، چې د پاچاهۍ پر څوکۍ کېني.

طبعي خبره ده، کله چې پاچاهان اووه کسان وي؛ خامخا به د دوی ترمنځ شر او فساد ډېرېږي.

په افغانستان کې کورنۍ جګړو زور ونيو. هر ځای پاټکونه جوړ شول. ظلم، غلا، چور ... پيل شول.

د الله تعالی رحمت او لورېينه وه، چې د مرحوم امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله په واسطه يو واحد لښکر او واحده قومانده رامنځته کړه.

د لوی ملا صاحب په راتګ سره افغانان په کرار او ټول تر يوه بيرغ لاندي راټول سول.

افغانستان داسي يو د امن کور سو، چي نړۍ ورته ګوته په غاښ شوه او هر مسلمان په افغانستان کي پناه اخيسته.

خو د نړۍ کفارو نه غوښتل، چي افغانان دي په کرار سي. نو کله چې (۲۰۰۱ م) کال د سپتمبر مياشتې په يوولسمه نېټه د امريکا په ايالت په (world trade center) پېښه وسوه؛ امريکا ته ښه بهانه جوړه سوه.

ځکه دوی د دغې پېښې پړه پر اسامه بن لادن تقبله الله باندي واچوله، چې دا کار هغه کړی دی او نوموړی په افغانستان کي اوسيږي.

د نړۍ کفارو امير المؤمنين ته وويل: اسامه بن لادن په لاس راکړه.

ملا صاحب ورته وويل:

په لاس يې نه درکوم، ځکه چې ما ته يې پناه راوړې ده.

نړيوالو ورته وويل:

که اسامه په لاس نه راکوئ، موږ پر افغانستان حمله کوو.

امير المؤمنين رحمه الله ورته وويل:



موږ خپله پاچاهي له لاسه ورکوو؛ خو يو مسلمان کفارو ته په لاس نه ورکوو.

کله چې د نړۍ کفار افغانستان ته د اشغال لپاره راتله؛ نو ملا صاحب ورته وويل:

دا ستونزه به د مذاکراتو له لاري حل کړو.

بوش ظالم وويل: د خبرو وخت نه دي، د عمل وخت دی.

وروسته ملا صاحب يو پېشګويي وکړه، چي د امريکا به د ليست له سر څخه د ليست پای ته راځي.

دا وه چي امريکا په ۲۰۰۱ کال پر افغانستان حمله وکړه، افغانستان يې اشغال او اسلامي حکومت ونړېدي..

خو الحمد الله افغانان په کراره کښېنستل او د دې ستر طاغوت په خلاف يې جهاد اعلان کړ.

بعضو کمونېستو افغانانو چي د جهاد اعلان واورېد؛ نو ويل به يې چي له امريکا سره جنګ، له غره سره سر وهل دي. الحمد الله د افغانانو په بې سارو قربانيو امريکا دې ته اړ شوه، چې مذاکرات وکړي.

امريکا د مذاکراتو نارې پيل کړې؛ نو همغه وو چې طالبانو هم په قطر کي سياسي دفتر پرانيست او په ۲۰۱۹ کي يې له امريکا سره مذاکرات پيل کړل او څه باندې يو نيم کال وروسته ۲۰۲۰ کال د حوت په لسمه د اسلامي امارت د لوړ پوړو چارواکو او د امريکا د استازو ترمنځ د صليبي استعمار د ټولو هېوادونو په مخکې لاسليک شو.

د ملا صاحب هغه خبره ريښتيا سوه، چي امريکا به د ليست له سر څخه د لېست پای ته راځي.

د حوت لسمه د صليبي استعمار د ماتي ورځ ده. ټولو افغانانو ته پکار ده، چي د خدای تعالی شکر وباسي.

هر کال بايد دغه ورځ ونمانځل سي...

ټولو هيوادوالو ته د دې ورځي مبارکی وايم.

# د کب لسمه د ګران هېواد په کليز کې!!

**جبرئيل سعد**

د کب لسمې او د اشغال د خاتمې تړون دريېمه کاليزه په داسې حال کې لمانځو چې له تمې د لوړو پايلو ترڅنګ يې د۴۳کاله قربانيو، ارمانونو او جهادي هلوځلو او په ځانګړې توګه د شاهي کوټ تاريخي معرکې چې لا د صليبي اشغال د پيل له لومړيو شېبو يې همدا د کب۱۰(د مالوماتو په توپير۱۲مه) د هېواد په تاريخ کې په خپل نوم او وياړ کړه؛ د پکتيا له جغرافيوي هسکو يې راکړي پيغام او الهام تحقق مونډلی او د ښمر په توګه يې ازادي، خپلواکي، اسلامي نظام او په سيوري کې يې بې ساري پرمختګونه او لاسته راوړنې په لاس کې لرو او لازياتې هيلې او اميدونه يې را ټوکولي دي.

د کب ترلسمې د تبليغاتو په درونډ غبار او ګرد کې نړۍ او بيا اسلامي ټولنې ته د خپلې دفاعي چارې جهاد زور، ښمر او په زړه پورې پايلې نه مالومېدې او چې د افغانانو د جهاد او سرښندنو په نتيجه کې د صليبي نړۍ د بالفعل او عملاً ماتې لومړی څرك هم ولګېد او بيا يې د واقعيت او حقيقت پر ډګر بشپړه ماتې هم خوړلې او امپراتوري يې نسکوره وه، هم يې د چا زړه ته لاره نشوه مونډلای، بلکې همدې تبليغاتو د افغانانو او اسلامي نړۍ د دفاعي ځواك او کرښې(جهاد)د ماتې فکر او احساس عام کړي و او داسې يې ښوده چې که له افغانستانه اشغال ټولېږي، نو دا يواځې له دې وجې چې موخې يې ترلاسه کړې، مجاهدين يې له منځه يوړل او دا هڅه هم وشوه چې له هېواده د اشغالګرو وتل په يو نه يو ډول جوړ جاړی او له اسلامي امارت او يا هم که وشي له خپل تپلي رژيم سره د يوې معاملې له مخې تبليغ او د اوس او راتلونکي لپاره يو څه پکې ترلاسه کړي چې دې ټګۍ برګۍ يې د مذاکراتو پېچلتيا ژوره کړه، تر۱۸مياشتې مودې وغځېدل او آن روان بريالي مذاکرات چې اشغالګر لوری په کې له ماتې سره مخ او اسلامي امارت بريالی و؛ هم د ننګونو او ګواښونو ښکار او بې پايلي تبليغ کېدل چې د افغانانو، افغانستان، د هغو د راتلونکي په اړه يې خورا پراخ او بوږنونکي اټکلونه، انديښنې او پوښتنې را ولاړې کړې وې او دا لوړې تبليغاتي هڅې او بيې يې ټولې د حقيقت او ځمکني واقعيت پر ډګر خپلې مبرهنې ماتې، نسکورۍ او هر اړخير زوال د پټولو او په اړه يې عام پام او احساس سرچپه کولو په پار هم پر ځان منلې او هم يې پر اسلامي امارت تاوانولې.

لکه چې چانس يې هم بېخي پراخ و او له تړون وروسته تر بشپړې تېښتې د هغه له توافقاتو مکررې او په سلګونو(د هغه مهال يوې سرسري احصائيې له مخې۱۲۰۰مواردو کې)سرغړونې او پرې متقابل غبرګون ته د اسلامي امارت اړ کولو هڅې هم وشوې؛ يوه موخه همدا وه چې د دوحې تړون دا دومره ستر وياړ او بريا مو پيکه او د يوې داسې معاملې رنګ واخلي چې کله پاللې او کله بايللې، خو په باور-زموږ وياړ-د تاريخ برخه ونه ګرځي، نو خدای مکړه که د مذاکراتو په دوام کې ډېر لږ هم داسې څه را منځته شوي وای چې اشغالګرو پر يادو۱۸مياشتې ټګيو برګيو او تبليغاتي هڅو سره غوښتل او يا لږ تر لږه دغو مذاکراتو د جوړجاړي او معاملې بڼه غوره کړې وای؛ ډېر زيات او تر هغې کچې زيان به مو کړی وای چې اشغالګرو يې تابيا او تمه هم نه وای کړې، د دوحې تړون د وياړ بشپړ ځای به پېغور او سرټيټۍ ډك کړی وای او طبعاً به نه جبرانېدونکې هم وه چې د افغان ولس، اسلامي امارت مشرانو-مجاهدينو او ټولو ريښتنو خواخوږو انديښنه هم همدا وه. خو د ګردې نړۍ په شتون کې د دوحې تړون لاسليك شو او د تکبير ملکوتي چيغو له ټولو حقائقو تبليغاتي څادر کش کړ، د څو دقيقو په ظرف کې يې آن پر نړيواله کچه هم عام فکر او احساس بدل او واقعيتونه يې د تبليغ سرچپه په رښتينې بڼه وښودل، ټولې انديښنې-پوښتنې-اټکلونه يې ځواب کړل او نور يې پای ته ورسول، د يرغلګرو ماتې-نسکور حيثيت-د زوال پيلامه يې بشپړ رسوا او بربنډ کړل، د ستونزې ډيپلوماتيك هوارې پر نوم ټګيو برګيو-معامله ګرۍ-هرڅه چانس له منځه لاړ او ډېر نور...نو د دوحې تړون او د کب لسمه که يوه هر اړخيزه تاريخي بريا وه، په نړيواله کچه د جهاد او لاسته راوړنو يې يوه ستره تبليغاتي سوبه هم وه چې پرې د اسلامي امارت او افغانستان په اړه يې د نړيوالې کچې عام فکر او احساس خپل ځای ته راوست.

د کب لسمه او د دوحې تړون د افغان ولس، مسلمانې ټولنې او ټولې نړۍ لپاره هر يوه ته د وړپېښو حالاتو پر مقتضا يو ښه پيغام لري او که يو د افغانانو لپاره وياړ ګڼله کېږي؛ د اسلامي وروروۍ پر مدار ټولې مسلمانې ټولنې ته وياړ دی او که د مسلمانې ټولنې بريا ګڼله کېږي، د ټولې بشري ټولنې په خير دی چې پرې اشغال ته عملاً افغان ولس ماتې ور کړه، وياړ يې پرې بشپړې اسلامي ټولنې ته وباښه او له خير څخه يې ټوله بشري ټولنه برخمنه شوه، خو که ځير شو؛ اشغالګرو يې له توافقاتو په بيا بيا سرغړونې سره چې لا تر اوسه دوام لري او پرې سربېره د يادو توافقاتو ضد تبليغاتي هڅې بياهم د دې لپاره دي چې د دوحې تړون پر حيثيت، ارزښت، تاريخي اهميت، لاسته راوړنو او ښو پايلو يې ګرد پرېوزي او بياهم د بې ځايه اټکلونو، انديښنو او پوښتنو په رامنځته کولو په کې اسلامي امارت پړ وښودل شي، خو اشغالګر او مزدوران يې بايد پوه وي چې د دوحې تړون پر لاسليکولو او خپلې هر اړخېزې ماتې پر منلو يې د دې هر ډول چانسونه له لاسه ور کړي او اوس چې اسلامي امارت د خپل هېواد او ولس د سترګو پر وړاندې يو مسئول نظام او چارواکې يې د همدې دوحې د تړون نوښتګرې څېرې دي؛ دغه هڅې پخې مو ځای نه نيسي، د دوحې تاريخي تړون پر وياړ د کب لسمه د ګران هېواد په کليز کې ځای لري، اسلامي امارت او افغانانو د دغه وياړ بيه پرېکړې، ارزښت يې پېژني او له پر مختګونو او پر ځان بسياينې سره به يې نور هم او لا ښه وپېژني، نو ځکه يې لمانځي، تاسو ته دې د پرله پسې ماتو تسليت وي.

# د دوحې تړون او څو درسونه

**مولوي نورالحق مظهري**

په ۲۰۰۱ کال کې چې کله امریکایانو پر افغانستان باندي یرغل وکړ، د ټولو بین المللي او عقلي اصولو پر خلاف یې افغانستان اشغال کړ او د افغانانو له مینځ څخه راپورته سوی اسلامي امارت یې ړنګ کړ ډېرو خلکو داسي فکر کاوه چې نور نو د افغانستان څخه د طالبانو د اسلامي تحریک تغر ټول سو ځکه له یوې خوا امریکا د نړۍ تر ټولو لوی او زبر ځواک وو او د مادیاتو څخه د متأثر سوي عقل له نظره یې ماتېدل او ناکامه کېدل غیر ممکن کار وو له بلي خوا یې په اړه خورا ډېر تبلیغات کېدل چا به ویل: امریکا د آسمان څخه پر مځکه باندي ثلور انچه شی ویني، چا به ویل: امریکا کولای سي چې په یو بم باندي ټول افغانستان وروان کړي او چا به ویل: په تاریخ کې تر امریکا لوی ځواک ندی تېر سوی او ټوله نړۍ د امریکا څخه وېرېږي.

ددې تر څنګ چې تبلیغات هم ډېر کېدل خو داهم واقعیت وو چې امریکا د نړۍ زبر ځواک وو او ټوله نړۍ ورڅخه وېرېدله خو لوی الله جل جلاله داسي فیصله کړې وه چې په هغه وخت کې یې هیڅا وړاندوینه نسوه کولای.

دا د لوی الله جل جلاله فیصله وه چې د امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله خبره به رښتیا کوي چې د بي بي سي سره یې په مرکه کې ویل: تر امریکا لوی ځواک هم سته چې الله دی او ارومرو به یو تحول راځي بیا به یې تاسو وویني.د مرحوم امیرالمؤمنین رحمه الله خبره رښتیا سوه او د عادت خلاف د غریبو طالبانو په لاس الله پاک د امریکا غرور مات کړ، هغه غرور چې د یرغل په وخت کې د امریکا د هغه وخت ولس مشر جورج ډبلیو بوش ټولي نړۍ ته اعلان وکړ چې یا به زما سره درېږئ یا به د تروریستانو سره درېږئ.د الله جل جلاله په فضل، د مجاهدینو په اخلاص او قربانۍ او د افغان ولس په مرسته د ۱۸ کاله جهاد وروسته مغروره امریکا دېته مجبوره سوه چې په ۱۳۹۸ کال کې د حوت پر ۱۰ د طالبانو سره د دوحې مشهور تاریخي تړون امضاء کړي او تر خپلي خبري تېره سي چې تل به یې ویل: طالبان به یا تسلیمېږي یا به وژل کیږي.د دوحې د تړون وروسته امریکایانو لکه په جګړه کې چې روحیه له لاسه ورکړې وه په سیاسي ډګر کې یې هم روحیه له لاسه ورکړه او د مذاکراتو په ټوله پړاو کې د افغانستان اسلامي امارت مذاکراتي ټیم په روحیه او استدلال کې برلاسی وو.داسي ویلای سو چې د دوحې تړون په سیاسي لحاظ نړیوالو ته طالبان د یوې ډلي د حیثیت څخه د نظام حیثیت ته پورته کړه او په امریکا یې هغه اقرارونه وکړه چې په تاریخ کې یې نه وه کړي.الحمدلله د اسلامي امارت پلاوي په قطر کې د خپل ولس او نظام داسي استازولي وکړه چې ټوله نړۍ یې ځان ته حیرانه کړه او د افغانانو سیاسي نبوغ یې په ټولي نړۍ باندي ومنی.

د دوحې د تړون څخه موږ لاندي عبرتونو او درسونو ته اشاره کولای شو:

۱ – د دوحې د تړون سره هغه باورونه غلط وختل چې خلکو به ویل: امریکا ماتي نه خوري او نه د طالبانو سره خبرو ته کښېني.

۲ – د دوحې تړون په تاریخ کې د امریکا لپاره لوی شا ته تګ وو ځکه د امریکایانو عمومي پالیسي خو دا وه چې: طالبان به یا تسلیمېږي یا به وژل کیږي.

۳ – د دوحې تړون دا ثابته کړه چې د الله لپاره مبارزه که څه هم ډېره کمه وي بې نتیجې نه پاتیږي ځکه د دوحې تړون د افغان مجاهدینو د جهاد او قربانۍ د مثبتو پایلو څخه یوه پایله وه.

٤ – د دوحې تړون که په مستقیم ډول د افغانانو لپاره لویه لاس ته راوړنه وه خو په ټولي نړۍ کې د مسلمانانو لپاره آزموینه هم وه ځکه د دوحې د تړون سره دا ثابته سوه چې دا دومره وختونه د امریکا په اړه د اسلامي هیوادونو د مشرانو باورونه بې ځایه او ناسم وه ځکه دوی خو له ویري خپل هر څه او ټوله امکانات د امریکایانو په لاس کې ورکړي وه په دې ګمان چې امریکا به هیڅ وخت ماتي نه خوري او هیڅوک به د امریکا په وړاندي نه درېږي خو الله تعالی د دوحې په تړون باندي د امریکا ماتي او عاجزي په ننداره کښېنودل او مسلمانانو ته یې دا په ډاګه کړه چې اوس هم داسي کسان سته چې زما پر دین غیرت کوي او د نړیوالو غټو کفارو سره د جهاد مقدسه دنده پر مخ وړي نو تاسي مسلمانان هم باید ویښ او بیداره اوسئ او نور د امریکایانو څخه مه وېرېږئ.

۵ – د دوحې تړون که له یوې خوا د افغانانو غیرت نړیوالو ته ښکاره کړ له بلي خوا یې د افغانانو اتفاق او اتحاد هم په ډاګه کړ چې اتلس کاله یې د یوه امیر تر قوماندې لاندي د جهاد سپېڅلې لاره تعقیب کړه او بېله دې چې تر خپل مینځ د ژبې، وطن او قوم پر سر لانجه وکړي په یو موټي او یو آواز د نړیوال مستکبر په وړاندي و درېدل او هغه یې د خپل وطن څخه شړلو ته مجبور کړ.

٦ – د دوحې تړون د مسلمانانو سره د الله تعالی هغه وعده یو ځل بیا تجدید کړه چې فرمایي: ژباړه: تاسي به لوړ یاست که چیري تاسو مسلمانان وی. افغانانو چې کله خپل اسلام وساتی الله تعالی هم خپله وعده ورسره پوره کړه او امریکا یې د دوی په لاس ماته کړه.موږ باید دغي ورځي ته په ډېره لویه سترګه وګورو او په خپلو تاریخونو کې یې د حدیبیې د سولي په څېر په زرین عنوان ولیکو تر څو را روانو نسلونو ته درس سي او موږ ددې ورځي لاس ته راوړني له یاده و نه باسو.

الحمدلله چې اوس اسلامي نظام نافذ دی دا د ټولو مبارزینو د مبارزې نتیجه ده؛ کومو مجاهدینو چې عملا جګړه کړې، کومو مشرانو چې په سیاسي دفتر کې د کفارو سره سیاسي مقابله کړې، کومو اسلامپالو چې په فکري او فرهنګي ډګرونو کې مبارزه کړې او کوم ولس چې د مجاهدینو او مبارزینو ساتنه او پالنه کړې ټول په دې نظام کې شریکان دي او هر څوک باید ځان په دې نظام کې ووینې او د دې نظام د سمبالښت او ساتني لپاره مسئولیت سر ته ورسوي.موږ افغانان باید شکر آداء کړو او په خپل مینځ کې یو والی او اتحاد نور هم وساتو تر څو همداسي بریالي پاته سو او د دښمنانو د دسیسو او توطئو څخه په آمان شو.

«به مناسبت دهم حوت»

# بیرق رسول‌الله؛ وقتی پرچم اسلام بر کفارِ غربی پیروز گردید!

**سیف‌الدین احمدی**

زمانی حتا فکرش نمی‌شد که روزی امپراتوری انگلیس با آن نام و نشان‌اش «بریتانیای کبیر» از جهادِ مردم افغانستان شکست بخورد. پیرامون امپراتوری فرانسه همین تصور وجود داشت. در آن‌سوی دیگر؛ در بیشتر از پنج‌قرن حاکمیت خلافت عثمانی تصور آن نمی‌رفت که روزی این دولت‌بزرگ مسلمانان سقوط کند. همین گونه در مورد قشون سرخ اتحاد شوروی و بعد شکست‌ناپذیری امریکا در افغانستان، تحلیل‌های زیادی وجود داشت؛ سرانجام مشاهده شد که پرچم امریکای‌متحد همراه با متحدین‌اش در برابر بیرقِ رسول‌الله صلی‌الله‌علیه‌وسلم ذلیلانه شکستَ خورد.

آنچه که تفاوت میان افکارِ و ارزش‌های یک ملت و یا یک امت را واضحاً بیان می‌کند بیرق به عنوان نمادِ سیاسی و هویتی قابل اهمیت است. از لَحاظ تاریخی بیرق‌های چندرنگی در سرزمین‌های اسلامی همه زاده‌ای عصر جدید و برجامانده از اشغال و استعمار هستند. وقتی که استعمارگران وارد سرزمین‌های اسلامی شدند بیرق‌های رنگین را در سرزمین‌های اسلامی به‌جای بیرق اسلام به عنوان نمادِ سیاسی و هویتی مسلمانان برگزیدند. اگر به کشورهای خاورمیانه، آسیای میانه و شمال افریقا نگاه کرده شود بسیاری از این بیرق‌ها پس از عصر استعمار و اشغال بوجود آمده‌اند.

بیرق سه رنگ قبلی افغانستان همچنان زاده‌ای اشغال و استعمار است.

به همین خاطر نه به هویت کدام قوم خاص تعلق دارد و نه هم به ارزش‌های مهم و مشترک مردم مسلمان افغانستان که از اسلام سرچشمه گرفته است. مسلمانان قبل از حضور استعمار در سرزمین‌های شان با بیرق اسلام به عنوان نمادی «نظام اسلامی» آشنایی داشتند، و نیز مفهوم و اهمیتِ نهفته در آن را می‌دانستند.

در زبان عربی بیرق و یا «لوأ» در لغت «العَلَم» گفته می‌شود. چنانچه در فرهنگ المحیط آمده است: واللِّواءُ، بالمَدِّ، العَلَمُ؛ ج: أَلْوِيَةٌ» یعنی بیرق به مفهوم نماد و یا نشانی است. ابن ماجه از حضرت جابر رضی‌الله‌عنه روایت می‌کند: ترجمه: «در روز فتح زمانی که پیامبر اسلام داخل مکه گردید لوأ و یا بیرق سفید همرای شان بود.» خلفای راشدین در کاربرد لواء و رایه از رسول‌الله صلی‌الله‌علیه‌وسلم متابعت می‌نمودند، چون ایشان آنچه را رسول‌الله در میان آن‌ها اظهار می‌ساخت قطعاً انجام می‌دادند.

در واقع بیرق نمادی نظام اسلامی و حاکمیت مسلمانان به شمار می‌رود.

در ابتدای اسلام هرچند بیرق‌های فراوانی نزد امیران هر گروهی از مجاهدین وجود داشت، ولی لوای امیر مسلمانان و رئیس دولت واحد بود که با رنگ سفید و با نوشته‌ی «لا إله إلا الله محمد رسول الله» مزین شده و نیز به «ام الحرب» معروف بود. بیرق سفید با نوشته‌ی «لا إله إلا الله محمد رسول الله» برای مسلمانان به دلیلی ارزشمند است که به عنوان نمادِ نخستین دولت اسلامی در زمان پیامبر صلَی‌الله‌علیه‌وسلم برگزیده شد. بعدها خلفاء و امیران مسلمان قرن‌ها یکی پی دیگر به هدف گسترش قلمروهای اسلام آن را با خود حمل می‌کردند. پس به‌جای تقلید از ارزش‌ها و افکارِ تعصبی نهفته در عقب بیرق‌های رنگارنگ کَه در واقع نماد تفرقه و پیروی از برنامه‌های استعمارگران است، به بیرق رسول‌الله صلی‌الله‌علیه‌وسلم به عنوان نماد وحدت امت اسلامی به آن هویت دهیم.

# توافق‌نامه دوحه؛ ملاک عقلانیت حق و باطل

**ابوالیاس جهادوال**

دیروز ( دهم حوت) مصادف به سومین سالروز توافقنامه صلح دوحه بود؛ توافقنامه ایکه با خروج « کریس دوناهو» آخرین سرباز آمریکایی، در نیمه‌های شب ۸ سنبله از میدان هوایی کابل، منتج به خاتمه اشغال ۲۰ ساله متجاوزین صلیبی و احیای نظام امارت اسلامی در سراسر افغانستان شد.

ایالات متحده امریکا و انگلستان در هفتم اکتوبر سال ۲۰۰۱ میلادی در حالی تحت عنوان« عملیات آزادی بلندمدت» بر افغانستان حمله کردند که هرگونه گفتگو و مذاکره با ( امارت اسلامی) را مردود و کسر شأن برای خود تلقی می‌نمودند و به تمامی کشورهای جهان هوشدار دادند که یا با آنها یا هم در مقابل آنها باشند و نباید بی‌طرفی را اختیار کنند.

اما در نتیجه مبارزات نفسگیر و نابرابر مجاهدین امارت و همکاری بی دریغ ملت افغان با نصرت آلهی بالاخره تن به گفتگوهای صلح دادند و برای اولین بار در ۱۲ اکتوبر سال ۲۰۱۸ مذاکرات رویاروی با نماینده‌گان سیاسی امارت اسلامی را در شهر دوحه پایتخت قطر آغاز نمودند.

مذاکرات صلح دوحه درست زمانی آغاز شد که اشغالگران غربی دیگر شکست خود در میدان جنگ با مجاهدین امارت اسلامی را پنهان کرده نمی‌توانستند و گلیم اشغال از بیشتر قراء و قصبات کشور برچیده شده و خط نبرد به حومه شهرها رسیده بود. بناءً امریکا و کشورهای حامی آن خواست به نحوی این شکست نظامی خود را در میز مذاکره تلافی نموده و از طریق سیاسی به اهداف شوم خود برسدند.

در این مذاکرات چهارده مرحله‌یی که با میزبانی کشور قطر در شهر دوحه آغاز به پیش برده می‌شد، یک طرف آن را ستراتیژیک‌های مهم و کار کشته‌یی امریکایی بودند که هر یک آنها سال‌ها در بخش‌های مربوطه آموزش تخصصی دیده بودند و یک تیم متخصص مشاورین را نیز در کنار خود داشتند که با هزاران مکر و فریب تلاش داشتند، نظر خود را که همانا ادامه حضور شان در افغانستان و صلب آزادی افغان‌ها بود، بر جانب مقابل تحمیل نمایند. اما جانب دیگر آنهایی بود که بیشتر شان از سنگرها جنگ و یاهم از زندان‌ها بدون هیچ‌گونه آماده‌گی قبلی راهی مذاکرات شدند. بناءً با توجه به این نابرابری دیپلوماتیک بیشتر به این باور بودندکه جانب امریکایی در این مذاکرات دست بالا خواهد داشت و دیپلوماتان امارت اسلامی را فاقد دید دیپلوماتیک می‌دانستند، اما واقعیت برعکس بود.

قرار معلومات روزی گفتگوها میان دو طرف به حدی جدی شد، که شیخ محمد بن عبدالرحمن آل ثانی وزیر خارجه قطر به محترم شیرمحمد عباس ستانکزی عضو مذاکره کننده امارت اسلامی گوشزد کرد که باید حساسیت موضوع را درک کند زیرا با یک ابرقدرت جهانی(امریکا) قرار دارد. اما جناب ستانکزی صاحب در پاسخ برایش گفت: جناب وزیر! به اندازه نفوس قطر در مقابله با امریکایی‌ها قربانی داده ایم و به همین تعداد بیوه داریم. بناءً می‌دانیم که با آن‌ها چگونه برخورد داشته باشیم.

این قاطعیت، عقلانیت، حقانیت و وحدت نظر تیم مذاکره کننده امارت اسلامی منتج به توافقی شد که اکنون امریکایی ها نیز به ناکامی خود در این مذاکرات اعتراف می‌کنند.

کنت مک‌کنزی، رئیس ستاد فرماندهی مرکزی امریکا، در نشست استجوابیه کمیته نیروهای مسلح ولسی جرگه امریکا که به تاریخ ۷ میزان سال ۱۴۰۰ برگزار شده بود، اظهار داشت که توافق دوحه یکی از علت‌های اصلی سقوط حکومت کابل و نیروهای نظامی تحت‌الحمایه امریکا بوده است.

لوید آستین، وزیر دفاع امریکا نیز اعتراف کرده است که توافق دوحه محدودیت‌هایی را بر نیروهای امریکایی وضع کرد که باعث تضعیف نیروهای نظامی حکومت کابل و شکست نظامی آنها در افغانستان شد.

مارک میلی، لوی درستیز امریکا نیز جنگ بیست ساله در افغانستان را یک شکست راهبردی تلقی نموده که عقد توافقنامه دوحه این شکست را سرعت بخشید.

هم‌چنان در واکنش با خروج نیروهای امریکایی از افغانستان، ۹۰ جنرال و دریادار بازنشسته آن کشور با صدور نامه‌ای سرگشاده خواهان کناره‌گیری لوید آسیتن، وزیر دفاع و مارک میلی، رئیس ستاد ارتش ایالات متحده به‌دلیل قصور در انجام وظایف اولیه آنان شدند.

از سوی دیگر دونالد ترامپ، رئیس‌جمهوری سابق ایالات متحده، در بیانیه‌ای کوتاه، ضمن انتقاد از عملکرد جو بایدن، رئیس‌جمهوری ایالات متحده در نحوه خروج از افغانستان، خواستار بازگرداندن تجهیزات نظامی آمریکا و یا در صورت نیاز، ارسال نیروهای نظامی برای پس‌گرفتن این تجهیزات و یا بمباران آن‌جا شد.

کریس استوارت، عضو جمهوری‌خواه آمریکا نیز در توییتر خود خروج نیروهای آمریکایی از افغانستان را شرم‌آور خوانده و افزوده است که با خروج نیروهای این کشور، شهروندان آمریکایی که در افغانستان به جا مانده‌اند شاهد این بودند که چگونه آنان را در پشت خطوط دشمن رها کردند.

فرزند دونالد ترامپ، نیز در واکنش به خروج نیروها از افغانستان در توییتر خود نوشت پدرش در دوره ریاست جمهوری خود گروگان‌های آمریکایی را به خانه باز می‌گرداند اما اکنون جو بایدن شهروندان این کشور را در افغانستان جا گذاشت تا گروگان گرفته شوند.

با توجه به موارد فوق گفته می‌توانیم که توافق‌نامه دوحه نه تنها منتج به خاتمه اشغال ۲۰ ساله کشور از سوی امریکا و ۴۸ کشور حامی آن، احیای نظام امارت اسلامی، تأمین صلح سراسری و حاکمیت واحد در کشور شد، بلکه درایت سیاسی و عقلانیت سیاسیون افغان را نیز به نمایش گذاشت که ستراتیژیک‌های کارکشته امریکایی را در میز مذاکره شکست دادند، بناءً باید به‌مثابه یک روز عطف در تاریخ جهان به خط زرین نگاشته شود.

## د حوت لسمه د اشغال خاتمه!

**شرافت ویاړ**

د حوت لسمه د اشغال خاتمه!
ستا د غرور او لوی جنجال خاتمه!
تا راته ډېر د ساده فکر وکړ!
وموکړه ډېره په کمال خاتمه!
ستا غلامي ته چې يې غېږ خلاصه کړه!
هغوئ بللې وه محال خاتمه!
چې مو قدم بيا په درشل کېښېدي!
کړه يې اخيره د دې کال خاتمه!
ستا ډيموکرات فکر غوښتله رانه!
زموږ د حياء او زموږ د شال خاتمه!
نور به بل چاته لاس نيوی نه کوو!
وياړه راغلې ده د سوال خاتمه!

## آزادي!

**حسان ضعیف**

راځئ چې ولمانځو ملګرو ازادي په ګډه
له يرغلګرو مو ګټلې خپلواکي په ګډه
راځئ چې سيال کاندو هېواد د نور جهانه سره
راځئ چې وکړو له نړۍ سره سيالي په ګډه
راځئ چې اوښکې کړو وړپاکې د يتيم د سترګو
ځکه ورکړې يې پلرونو قرباني په ګډه
راځئ چې زړونه مو پيوند کاندو په مينه سره
راځئ چې ختمه کړو نور کرکه دښمني په ګډه
راځئ چې وکړو الله ته څو سجدې د شکر
راځئ چې ليرې کړو له زړونو ستوماني په ګډه
راځئ چې وشړو نفاق حسان ضعيفه له چم
لکه چې شړنګه مو وشړل پردي په ګډه

## د دوحې تړون!

**ساقیار**

ډوبه دفنا په سيند بېــړۍ وه خو راتم شوله
نور مو د ژوندون وروستــۍ سـلګۍ وه خو راتم شوله
نــور د ازادۍ ليلا زموږ په نصيب نه وله
غونډه پرې دبرګ ښـامار مرۍ وه خو راتم شوله
دا افغانسـتان د ميړنيو شازلميو کور
برګه بلوسـيدلې پرې نړۍ وه خو راتم شوله
زموږ له سره يې واخيسـتل بې شـميره دحساب سرې
دا جګړه مرګينه خونړۍ وه خو راتم شـوله
زمـا له هيبتـي ګوزاره هسي تقدير چپه کړه
رنګه دا ياغی سـپينه مانۍ وه خو راتم شـوله
نن د کب لســمه د دوحې تړون حتمي بريا
مړه ترې سـاقياره ناتوګۍ وه خو راتم شوله

# په یوه پېړۍ کې څو غزاګانې

**ساجدالله عظمت**

لـه ديـن او خپلـې خـاورې نـه دفـاع د هـر مکلـف مسـلمان دنـده ده چـې پـه دې لاره کـې هڅـه او هانـد جهـاد بـولي او مـرګ شـهادت بلـل کيـږي. ګـران هېـواد تـه چـې د اسـلام سـپېڅلی ديـن را رسـېدلی او زمـوږ هېوادوالـو اسـلام منلـی، نـو بيـا يـې خپـل سرونـه پـرې قربـان کـړي دي او د خپلـو جهادونـو او شـهادتونو پـه اسـاس يـې يرغلګـر (چنګيـز، ګـوډ تيمـور، ګرګيـن انګريـز، شـوروي اتحـاد او د يويشـتم قـرن صليبيـان) ځغلـولي دي.

**د انګريزانو سر زوري او د استقلال غزا:**

